سلطان جان کلیوال

۲۰۲۰/۰۸/۱۷

# په یارانه کی

ما لیــدلی ډیر تــاوان پــه یــارانــه کی
دئ بایللي مي خپل ځان په یارانه کی

له حـدودو نه بیرون یاری و نه کړی
چی راځي ضرور خپګان په یارانه کی

لکه ګل چی مړاوي کیږی بی له بوټي
شي زړه بدئ به جانان په یــارانه کی

ده توفان سـره یاري، یاري د ښـکلـو
سرهم تلای شي د توفان په یارانه کی

له آسمان سره یاري ښکلو نه ښــه ده
انصاف ښکاری د آسمان په یارانه کی

که اصول د یاری نه شي پېنـو لاندې
تاوان نشــته د افغـان په یارانه کی

له بل هرڅه کلیوال ته دا ښه ښکاری
چی ژوند جوړشي دانسان په یارانه کی

جولای/۲۶/۲۰۲۰
تورنتو - کانادا



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com